# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبري بلوټن

# News Bulletin

**5اسد_سال 1402**


اخبار مهم
افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه


د مهاجرینو چارو وزیر په کابل کي د پاکستان له سفیر سره لیدونه وکړه -------------------------------------------1

د کډوالو چارو وزارت سرپرست په کابل د پاکستان له سفیر څخه په هغه هېواد کي د بندي افغانانو د ژر تر ژره خوشي کولو غوښتنه وکړه 2

مسوول پروگرام انکشافی سازمان ملل متحد درزون شرق آغاز شماری از پروژه ها را وعده داد---------------------3

د پاکستان له زندانه ۸۰ تنه خوشي شوي افغانان وطن ته راستانه شول-------------------------------------------3

بیش از صد خانواده در ولایت سرپل از کمک نقدی مستفید شدند -------------------------------------------------4

پروان کي لسګونو کورنیو سره مرستې وشوې -------------------------------------------------------------5

گروهی از پناهجویان در مرز رومانیا و مجارستان دستگیر شدند-------------------------------------------------6

یونان: کډوالو د یو تن له مړیني وروسته کمپ ته اور ورته کړی-------------------------------------------------8

په صربستان کي یو افغان مهاجر وژل سوی -----------------------------------------------------------------9

کاناري ټاپوګانو ته نژدې له کښتۍ څخه ۸۰ مهاجر ژغورل شوي دي ------------------------------------------10

رومانیا او بلغاریا کي ۶۸ بې اسناده کډوال نیول شوي ---------------------------------------------------------11

له زر څخه ډېر کسان د انساني قاچاق په تور نیول شوي دي-------------------------------------------------12

نجات 84 مهاجر سرگردان در آب‌های اسپانیا-----------------------------------------------------------14

تازه ۳۲ افغان بندیان د ایران له زندانونو خوشي شول-------------------------------------------------------14

# متن کامل اخبار

## د مهاجرینو چارو وزیر په کابل کې د پاکستان له سفیر سره لیدونه وکړه

د وزارت ویب سایت




د مهاجرینو چارو زیر الحاج خلیل الرحمن حقانی، په کابل کې د پاکستان له سفیر عبید الرحمن نظامانی سره په خپل کار په دفتر کې لیدنه وکړه.

په دې لیدنه کې په پاکستان کې د مېشتو افغان حاجیانو، پاکستان هېواد ته د بیت الله شریف نه د راغلو افغان حاجیانو د بېرته تګ او د هغو افغانانو پر ستونزو چې د ورو جرمونو او یا د اسنادو د نه لرلوله امله د پاکستان په زندانونو کې بندیان دي خبرې وشوې او همدارنګه یې محترم حقانی پاکستان هېواد ته د خپل راتلونکي سفر په اړه هم د ښاغلي نظاماني سره خبرې وکړې چې غواړي هغه هېواد ته لاړشي او د افغان مهاجرینو له کمپونو څخه لیدنه وکړي او دهغوی له استازو سره خبرې وکړي او شته ستونزې یې واوري.

د مهاجرینو چارو وزیر د پاکستان هېواد څخه د افغان مهاجرینو د کوربه توب له امله مننه وکړه او د یادو ستونزو حل او د هغو افغانانو د عاجلو خوشې کولو غوښتنه وکړه چې د کوچنیو جرمونو او یا د اسنادو د نه لرولو له امله نیول شوي دي.

د پاکستان سفیر ژمنه وکړه چې له بیت الله شریف څخه راستنېدونکو حاجیانو ته به ویزې ورکوي او افغان بندیان به خوشې کوي



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

## د کډوالو چارو وزارت سرپرست په کابل د پاکستان له سفیر څخه په هغه هېواد کې د بندي افغانانو د ژر تر ژره خوشي کولو غوښتنه وکړه

آژانس اطلاعاتی باختر



د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست خلیل الرحمن حقاني په خپل کاري دفتر کې د افغانستان لپاره د پاکستان له سفیر عبید الرحمن نظاماني سره په کتنه کې په یاد هېواد کې د بندي افغانانو د ژر تر ژره خوشي کولو غوښتنه وکړه.

په دغه کتنه کې په پاکستان کې د مېشتو افغان حاجیانو، پاکستان هېواد ته د بیت الله شریف نه د راغلو افغان حاجیانو د بېرته تګ او د هغو افغانانو پر ستونزو، چې د وړو جرمونو او یا د اسنادو د نه لرلوله امله د پاکستان په زندانونو کې بندیان دي خبرې وشوې.

د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست په دغه کتنه کې وویل چې غواړي په نږدې راتلونکي کې پاکستان ته سفر وکړي او د افغان کډوالو له پنډغالو څخه د هغوی د ستونزو اورېدو په موخه لیدنه وکړي.

نوموړي همدارنګه له پاکستان څخه د افغان کډوالو د کوربه توب له کبله مننه وکړه او د هغو افغانانو د ژر تر ژره خوشې کېدو غوښتنه یې وکړه، چې د کوچنیو جرمونو او یا د اسنادو د نه لرولو له امله نیول شوي دي.

په ورته وخت کې په کابل کې د پاکستان سفیر په دغه کتنه کې ژمنه وکړه، چې له بیت الله شریف څخه راستنېدونکو حاجیانو ته به ویزې ورکوي او افغان بندیان به خوشې کړي.

## مسوول پروگرام انکشافی سازمان ملل متحد درزون شرق آغاز شماری از پروژه ها را وعده داد

ویب سایت وزارت



**به اساس گزارش ریاست امورمهاجرین ولایت ننگرهار مولوی سعید احمد بنوری معاون والی آن ولایت با آقای اناتولي بالينوف مسول زون شرق پروگرام انکشافی سازمان ملل متحد به تاریخ 3 اسد در دفتر کارش ملاقات نمود.**

**هدف از این دیدرا آغاز کار بازسازی درآن ولایت بود واز بالینوف تقاضا بعمل آمد که دراعمار شلتر (سرپناه) دردو کمپ رسمی شیخ مصری وچمتال بیجاشده گان و کمک به خانواده های برگشت کننده در کمپ ها ی غیر رسمی بازسازی خانه های ویران شده ، ساخت سرک های فرعی ، دیوار های استنادی ، کانال ، سربند ، کلینیک ، مکاتب را در زون شینوار و در برخی ولسوالی ها و مناطق شد وطرف مقابل آغاز شماری از پروژه ها را وعده کرد.**

**دراین ملاقات که روسای اقتصاد، معارف، زراعت، فواید عامه وامور مهاجرین نیز حضورداشتند.**

## د پاکستان له زندانه ۸۰ تنه خوشي شوي افغانان وطن ته راستانه شول

د وزارت ویب سایت



**تنه افغانان چې د پاکستان هېواد په زاندان کې بندیان ول له بنده خوشې او د زمري په ۳ مه د سپین بولدک او تورخم له لارې وطن ته راستانه شول.**

**د یادو کسانو له ډلې ٥٦ تنه د سپین بولدک او ٢٤ تنه د تورخم له لارې هېواد ته را ستانه شول.**

**د سپین بولدک د مهاجرینو چارو د آمر په خبره یاد کسان د قانوني اسنادو د نه لرلو له امله له درې میاشتو څخه تر ١٠ میاشتو پورې په زندان کې تېرې کړي.**

**د تورخم د مهاجرینو آمر د معلوماتو له مخې کوم خوشې شوي رد مرز شوي افغانان چې د تورخم له لارې راستانه شوي یوه میاشت او یاهم د یوې میاشتې څخه زیاته په زندان کې و.**

**سرچینې زیاتوي، چې یاد کسان د مهاجرینو چارو ادارو کې د ثبت څخه وروسته د مرستو د تر لاسه کولو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان ته ور وپېژندل شوي او همدارنګه د ډنمارک د مهاجرینو ټولنې له لورې ورته د منفجره مواد په اړه عامه پوهاوی ورکړل شو او هغه کسان چې زیر سن ١٨ کاله ماشومان د کورنیو د پېژندنې په موخه د موسسه باسازی افغانستان ته ور وپېژندل شول**

## بیش از صد خانواده در ولایت سرپل از کمک نقدی مستفید شدند

ویب سایت وزارت




**برای 194 خانواده در ولایت سرپل کمک نقدی اداره پناهنده گان سازمان ملل متحد به تاریخ 3 اسد رسانیده شد.**

**خانواده های یاد شده شامل بیجاشده، آسیب پذیر و متضرر ین بودند که از طرف آمریت مهاجرین آن ولایت در ولسوالی های بلخاب، سانچارک ،گوسفندی و کوهستانات قبلا سروی**

**وبرای هر خانواده در کتگوریهای مختلف مبالغ (61 هزار و 800 افغانی، 65 هزار و 300 افغانی، 22 هزار و 600 افغانی و27 هزار و 500 افغانی) با نظارت آمریت مهاجرین آن ولایت توزیع شد.**

**ده ها خانواده در ولایت پروان کمک شد**

**57 خانواده در ولایت پروان کمک نقدی موسسه خدمات اجتماعی و تخنیکی وطن را به تاریخ 3 اسد دریافت نمودند.**

**خانواده های مذکور بیجاشده های قبلی ولسوالی های مختلف ولایت پروان در ولایت کابل بودند ودر حال حاضر در محلات اصلی شان زنده گی می نمایند و به هر خانواده بعد از اتمام سروی توسط اداره امور مهاجرین آنولایت، مبلغ 79 هزار و 450 افغانی توزیع شد.**

## پروان کې لسګونو کورنیو سره مرستې وشوې

د وزارت ویب سایت




**د موسسه خدمات اجتماعی و تخنیکي وطن له لورې ۵۷ کورنیو سره د زمري په ۳ مه نغدي مرستې وشوې.
یادې کورنۍ مخکې د پروان ولایت د بېلابېلو ولسوالیو ځخه کابل ولایت ته بېځایه وې او اوسمهال خپلو اصلي سیمو کې ژوند کوي، هرې کورنۍ ته له سروې وروسته د پروان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په واسطه ۷۹ زره او ۴۵۰ افغانۍ وویشل شوې.**

## گروهی از پناهجویان در مرز رومانیا و مجارستان دستگیر شدند

مهاجرنیوز




مقامات رومانیایی می‌گویند که پولیس مرزی در مناطق غربی این کشور ۵۵ پناهجو را در دو کامیون شناسایی و دستگیر کرده‌است که قصد داشتند از مرز این کشور وارد مجارستان شوند.

گفته شده‌است که رانندهٔ این کامیون‌ها ترکیه‌یی بودند و قرار بود کالاهای تجاری را از ترکیه به آلمان منتقل کنند.

پولیس مرزی رمانیا نخستین کامیون را با ۳۹ پناهجو در گمرک نادلاک شناسایی و دستگیر می‌کنند که یک رانندهٔ ۳۹ سالهٔ ترکیه‌یی قصد قاچاق آن‌ها را داشت.

همچنان پولیس مرزی رمانیا در آراد می‌گوید که این افراد برای تحقیقات بیشتر به مقر منطقه‌یی پولیس منتقل شده‌اند. تحقیقات ابتدایی نشان داده‌است، این افراد که شهروندان اصلی کشورهای بنگلادیش، عراقف سوریه و پاکستان هستند، به صورت قانونی وارد رومانیا شده بودند.

در همین حال، کامیون دومی نیز از سوی پولیس مرزی حین بازرسی شناسایی شد که باز هم یک رانندهٔ ترکیه‌یی هشت پناهجو را در میان کالاهای تجاری جا به جا کرده بود.

این پناهجویان که از ۱۹ تا ۳۶ سال دارند، قبلا به این کشور درخواست پناهندگی داده بودند.

بیشتر بخوانید :سازمان‌های ایروپول و اینترپول یک شبکهٔ قاچاق مهاجران را متلاشی کردند

نیروهای مرزی رومانیا در ادامهٔ این دستگیری‌ها، هشت پناهجوی دیگر را نیز در منطقهٔ نادلاک در صحرایی نزدیک به خط مرزی مجارستان شناسایی و دستگیر کردند.

این پناهجویان که از ۲۴ تا ۴۹ ساله هستند، شهروندان اصلی نپال، پاکستان، سریلانکا و هند هستند. این پناهجویان نیز قصد داشتند با پای پیاده مرز این کشور را عبور کرده وارد قلمرو مجارستان شوند.

گفته شده‌است که رانندگان ترکیه‌یی کامیون‌ها به دلیل قاچاق مهاجران تحت بازداشت و بازجویی قرار دارند.

رومانیا و مجارستان از کشوهایی است که مهاجران آسیایی همواره تلاش می‌کنند با عبور از این کشورها، وارد اتحادیهٔ اروپا شوند .

## یونان: کډوالو د یو تن له مړینې وروسته کمپ ته اور ورته کړی

مهاجرنیوز



د یونان پلازمینه آتن ښارته نږدې د کډوالو د یو ترلې کمپ اوسیدونکو وروسته له هغه کمپ ته اور ورته کړ چې یو هندي کډوال په کې خپل ژوند لاسه ورکړ. مرستندویه اداري وايي چې دغه کس د چارواکو د بې غورۍ له امله مړ شوی.

آتن کې د پروسفیکیکا بشري ټولنې د سه شنبې په ورځ خبر ورکړ چې تیر ماښام د امیګدالزا په نوم د بې اسناده کډوالو په کمپ کې وروسته له هغه کډوال په غوصه شول او کمپ ته یې اور ورته کړ چې د کمپ یو ناروغ اوسیدونکي دغلته ساه ورکړه .

د کمپ اوسیدونکي د خپل ملګري له مرګ وروسته، توشکو ، کانتینرونو او نورو توکو ته اور ورته کړ.

یادې ټولنې د دغې اورلګیدنې د ویدیو ګانو په خپرولو سره لیکلي چې د امیګدالزا په نوم دغه کمپ کې مړ شوی کس ناروغ و او دوا ورته نه وه رسیدلې.

اور وژونکي او پولیس د شپې ناوخت سیمې ته ورسیدل چې د یادې تولنې په وینا یو شمیر کډوال یې و نیول. د سهار په دریو بجو د اور وژونکو لخوا اور مړ شو.

نور ولولئ: یونان :د الیوناس مهاجر کمپ د ترلو عملیاتو پر مهال د پولیسو او کډوالو ترمنځ شخړې

بل پلو بیا د یونان پولیسو د in په نوم یوې سیمه ایزې رسنی ته ویلي چې دغه ۲۶ کلن کډوال د ناروغی له امله ساه ورکړې.

د امیګدالزا کمپ د آتن ښار په شمال لویدیځ کې موقعیت لري ګڼ شمیر بې اسناده کډوال په کې ساتل کیږي. د بشري حقونو سازمانونه په دغه کمپ کې له کډوالو سره د چاروکو له تاوتریخوالي ګڼ راپورنونه خپاره کړي.

## په صربستان کې یو افغان مهاجر وژل سوی

دویچه وله



د صربستان په شمال سوبوتیکا ښار کې د مهاجرو او قاچاقبرو ترمنځ دزو په ترڅ کې یو افغان مهاجر وژل سوی دی. د دغه ښار په ځنګله کې په سونو مهاجر اوسیږي.

صربي رسنیو د دغه هیواد د پولیسو په حواله خبر ورکړی دی چې د هنګري سرحد ته نیږدې په یوه ځنګله کې د نوموړي وسله والي شخړې په ترڅ کې دوه نور افغانان ټپیان سوي هم دي. دغه پیښه د شپې په سرحدي ښار سوبوتیکا کې رامنځته سوې ده .

د سوبوتیکا په شمال کې پراته ځنګلونو کې په وار وار سره په سونو مهاجر ځاي پرځاي کیږي. د قاچاقچیانو په لارښوونه هغوی هره شپه هڅه کوي چې د هنګري پر سرحدي دیوال یرغل وروړي.



Website: *https://morr.gov.af*

Twitter: *https://twitter.com/MoRRAfg*

Facebook: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

هنګري د ۲۰۱۵م کال په مني کې کله چې اروپا ته ډېرېو مهاجرو مخه کړه، یو سرحدي دیوال جوړ کړ .

د دغې سیمې د اوسیدونکو په وینا، محلي سیاستوال او ځایي خبریالان پر هغو مهاجرو سخت کنترول لري چې د بیلابیلو قاچاقچیانو له خوا د سرحد په اوږدو کې ځنګلونو ته رسیدلي دي. په دغه ځای کې د هغو ډلو ترمنځ چې د خپل قلمرو له پاره جنګیږي، دا ډول وسله والې نښتې په پرله پسې ډول رامنځته کیږي.

د تیرکال په جولای میاشت کې د سوبوتیکا ښار په یوه بله برخه کې هم د نښتو په ترځ کې یو سړی ووژل سو. له افغانستان او پاکستان څخه راغلي شپږ نور مهاجر بیا تېپیان سول.

صربستان او هنګري د بالکان پر لار موقعیت لري. پر دغه له ۲۰۱۵م کال وروسته له آسیا او افریقا څخه ډېر مهاجر او پناه غوښتونکي د اروپایي ټولني غړیو هیوادونو ته ورسېدل.

## کاناري ټاپوګانو ته نژدې له کښتۍ څخه ۸۰ مهاجر ژغورل شوي دي

مهاجرنیوز




هسپانوي مرستندویانو ویلي دي چې تر ۸۰ څخه زیات مهاجر یې و کاناري ټاپوګانو ته نژدې له یوې کښتۍ څخه ژغورلي دي.

د فرانس پرېس خبري آژانس د خبر له مخې د هسپانیې مرستندویانو تر اتیا څخه زیات انسانان له اضطراري حالت څخه خلاص کړي دي. د سالوامېنتو ماریتیمو په نوم د ژغورنې عملې د سه شنبې په ورځ وویل چې د کښتۍ په مرسته د مهاجرت په هڅه کې یو سړیلی مړ شوی هم دی.

د مرستندویانو په وینا دغه کښتۍ د هسانوي کاناري ټاپو ګران کاناریا ته څېرمه په اوبو کې د سه شنبې په سهار وختي لیدل شوی و .

ویل شوي چې له کښتۍ څخه تر ۸۰ زیات ژغورل شوي کسان د آخوین خوین و بندر ته انتقال کړل شوي دي. یاد بندر په ګران کاناریا ټاپو کې دی. ویل شوي چې په دغه کښتۍ کې یوه مېرمنه هم سپره وه، خو نور ټول نارینه ول.

د کاناري ټاپوګان له کالونو راهیسې د مهاجرو لپاره و اروپا ته د رسېدو یو هدف دی .کاناري ټاپوګان په هسپانیې او په دې توګه په اروپایي اتحادیه پورې مربوط دي. د نورو ځایونو تر څنګ له مراکش، سویلي صحرا، ماوریتانیې او آن له سینیګال څخه مهاجر خپل سفر پیلوي چې ځانونه و کاناري ټاپوګانو او په دې توه اروپایي اتحادیې ته ورسوي. سینیګال له کاناري ټاپوګانو څخه ۱۵۰۰ کلومتره لیرې پروت دی، خو بیا هم زیات انسانان کوښښ کوي چې له سینیګال څخه کاناري ټاپوګانو ته په کښتۍ کې مهاجرت وکړي. خو په منځ کې یې د اتلانتیک سمندر پروت دی چې پکښې څپې او توپانونه ډېر زیات دي .

له ۲۰۱۹ کال د پای راهیسې په مدیترانه کې کنټرول زیات شوی او له هغه راهیسې د اتلانتیک سمندر له لارې مهاجرتونه هم زیات شوي دي. د روان ۲۰۲۳ کال د جنورۍ څخه بیا د جولای میاشتې تر نیمایي پورې د انتلانتیک له لارې ۷۵۰۰ د کښتیو مهاجر کاناري ټاپوګانو ته ورسېدل. دا معلومات د هسپانیې د کورنیو چارو وزارت ورکړي دي. په ټولیزه توګه په یاده موده کې و هسپانیې ته ۱۴ زره مهاجر رسېدلي دي

## رومانیا او بلغاریا کې ۶۸ بې اسناده کډوال نیول شوي

مهاجرنیوز



د رومانیا سرحدي پولیس د سه شنبې په ورځ ۵۵ کډوال چې غوښتل یې په ناقانونه ډول رومانیا پرېږدي، له دوه کامیون موټر او ټېیو څخه موندلي. په ورته مهال ۱۳ نور ناقانونه کډوال د بلغاریا په لویدیځه پوله کې نیول شوي دي.

رومانیا کې د stiripesurse خبري ویب پاڼې خبر وکړ چې د لویدیځې رومانیا د اردا سرحدي پولیسو د سه شنبې په ورځ هغه کډوال نیولي چې په دوه موټرو کې پټ شوي وو او غوښتل یې له رومانیا څخه نورو هیوادونو ته سفر وکړي. یو شمیر نور نیول شوي کډوال هڅه درلوده چې په پیاده ډول هنګري ته واوړي .

له دغې ډلې ۳۹ تنه له هنګري سره پولې ته نږدې د نادلاک په ګمرک کې له یو کامیون موټر څخه موندل شوي. د موټر چلونکی یو ۳۹ ترکی و.

له تحقیقاتو وروسته سرحدي پولیس موندلي چې نیول شوي کډوال د بنګله دیش، عراق، سوریې او پاکستان اوسیدونکي دي او په قانوني ډول رومانیې ته د ننه شوي وو.

همدارنګه له هنګري سره پرپوله د نادلاک ۲ پر لویه لاره، د عراق او سوریې اته نور پناه غوښتونکي نیولي. په ورته سیمه کې اته تنه نور د نیپال، پاکستان، سریلانکا او هند اوسیدونکي نیول شوي چې غوښتل یې د پټیو له لارې له پولې واوړي.

د کامیون داوړه چلونکي چې د ترکیې اوسیدونکي و، د پولیسو تر تحقیق لاندې دي.

بلغاریا کې د ۱۳ کډوالو نیول

په ورته مهال د سه شنبې په ورځ د رومانیا په ګاونډ بلغاریا کې پولیسو ۱۳ تنه ناقانونه کډوال چې په یو موټر کې پټ ښوي و،نیولي.

د BTA په نوم یوې خبري سرچینې خبر ورکړی چې دغه کډوال چې د سوریې اصلي اوسیدونکي دي، پلازمینه صوفیې ته نږدې د تراکیا پر لویه لاره له یوه موټر څخه موندل شوي دي.

د بلغاریا پولیس وایي چې د ناقانونه کډوالو سره د مبارزې په برخه کې به خپلې هلې ځلې رواني و ساتي.

د یادولو ده چې د روان کال په فبرورۍ میاشت کې ۱۸ افغانان د صوفیې ښار ته نږدې اروپا ته پر لاره په یوه لارۍ موټر کې د اکسیجن د کمښت او د سړې هوا له امله ساه ورکړې وه چې یاده پیښه پراخ غبرګونونه را و پارول.

## له زر څخه ډېر کسان د انساني قاچاق په تور نیول شوي دي

مهاجرنیوز




د انټرپول او یورو پول پولیسو د نړۍ په بیلو هیوادونو کې د انساني قاچاق پر ضد په عملیاتو کې له زر څخه زیات تورن کسان نیولي دي.

د انټرپول نړیوالو پولیسو د سه شنبې په ورځ (د ۲۰۲۳ کال د جولای ۲۵نېټه ) وویل چې د روان عیسوي کال د می او جون میاشتو تر منځ یې په بیلو هیوادونو کې پلټونکي عملیات ترسره کړي دي .زیاته شوې چې دغه عملیات د «فلش واکا» تر عنوان لاندې شوي او پکښې د ۵۴ هیوادونو امنیتي ځواکونو برخه اخیستې.

د یادو ادارو د اعلامیې له مخې یاد عملیات په لویدیځه افریقا او شاوخوا سیمو کې د سازماندهي شوو جنایي ډلو پر ضد تر سره شوي. دغه ډلې په انساني قاچاق تورنې دي. ویل شوي چې په عملیاتو کې په سلونو د قاچاق وړونکو قربانیان هم پېژندل شوي دي.

د قاچاق وړونکو په قربانیان کې ۸۲۳ یې د آسیایي هیوادونو او په خاصه توګه د بنګله دیش، هند، پاکستان، سریلنکا او ویتنام سره تړاو لرونکي بلل شوي دي .له دغو زیانمن شوو کسانو یو شمېر یې په هوټلونو او د ښکلا په سالونونو کې موندل شوي. یو شمېر یې نا په دې تېر ایستلي او بیا خپل قرباني کړي ول، چې ګواکي ورته کار به روکړي. د اعلامیې په وینا پر بعضو دغو قربانیانو آن جنسي تېری هم شوی دی.

دغه جرمي ډلې خینې یې په بورکینا فاسو، کامرون، عاج ساحل، غانا، ګینه او مالي کې پیژندل شوي دي. په عملیاتو کې ۸۰۰ څخه ډیر بېلابېل جرمي توکي او وسایط هم ضبط کړل شوي دي.

د دې تر څنګ ۲۷۳۱ کسان د کډوالو په توګه پیژندل شوي چې په مربوطو هیوادونو کې په غیر قانوني توګه اوسیدل. تېر کال هم په ورته نړیوالو علملیاتو کې ۳۰۰ کسان نیول شوي ول.

## نجات 84 مهاجر سرگردان در آب‌های اسپانیا

رادیوکلید

**مقامات اسپانیا روز شنبه (3اسد) اعلام کردند که یک کشتی حامل 84 مهاجر را از غرق شدن نجات داده و یک تن در این رویداد جان باخته است**




**به گفتهٔ مقامات اسپانیا، سرنشینان این کشتی مهاجران مربوط به کشورهای افریقایی بودند.**

**گفته شده که این کشتی در نزدیکی جزایر قناری در حال غرق شدن بوده که پولیس اسپانیا وارد عمل شده است.**

**جزایر قناری یکی از مسیرهای اصلی مهاجران افریقایی برای رسیدن به اروپا است.**

## تازه ۳۲ افغان بندیان د ایران له زندانونو خوشي شول

روزنامه شریعت



**شریعت: د بهرنیو چارو وزارت ایران کې د ۳۲ افغان بندیانو د خوشې کېدو او هېواد ته د راستنېدو خبر ورکوي.**

**د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت مرستیال ویاند پرون په ټویټر خبر ورکړی چې، په تهران کې د افغان سفارت او زاهدانو کې د هیواد جنرال کونسلګرۍ په ځانګړو هڅو ۳۲ افغانان چې ماشومان هم په کې شامل وو د قانوني اسنادو د نشتون له امله نیول شوي وو او په الغدیراردوګاه کې زنداني وو را خلاص او د نیمروز ولایت له لارې هیواد ته را ستانه کړل شول.**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*